مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۱/۰۲

# داسې حال پر ما راغلی،
## په کې هیڅ نه شومه غلی

ته یې اور که یې اوبه
په دې پوه نه شومه زه

ځمکنی که اسمانی یې
ته مې خپل که کوم پردی یې

کله اور شې چې مې سوځې
شم لمبه لکه پیلوځې

بیا اوبه شې د رحمت
ورکوې را نه زحمت

پاس مې بوزې پلازو ته
بیا مې واچوې لمبو ته

داسې حال پر ما راغلی
په کې هیڅ نه شومه غلی

هره سا ادلون بدلون دی
بنه عذاب او بیا للون دی

۲۰۱۷/۱۲/۰۶
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ